SEI ARRIVATO IN ITALIA!

تاسو ایتالیا ته رسیدلي یاست!



لخوا

CIR
CONSIGLIO ITALIANO PER I RIFUGIATI ONLUS

په مرسته

UNHCR
The UN Refugee Agency

SEI ARRIVATO IN ITALIA!

تاسو ایټالیا ته رسیدلي یاست!

لخوا

CIR
CONSIGLIO ITALIANO PER I RIFUGIATI ONLUS

په مرسته

UNHCR
The UN Refugee Agency

د ایټالیا هیواد د پناه غوښتونکو شورا لخوا د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیساری په ملاتړ ایټالیا ته راستنیدونکو بې سرپرسته او د کم عمره پناغوښتونکو لپاره ګڼ ژبیزه معلوماتي کتاب/لارښود " په سیسلي جزیره کې د ځان ساتنې په سیستم او شمال ختیځه سیمه کې د حقوقي معلوماتو په برخه کې پیاوړتیا/پراختیا" هغه پروژه ده چې د کډوالو په برخه کې د ملګرو ملتونو د عالي کمیساری په مرسته د ایټالیا هیواد د پناغوښتونکو اداري (CIR) لخوا ترسره کیږي.

د پوښ انځورونه او د کتاب محتوي:
Maria Tomaselli

د ګرافیک ډیزاین او پاڼو سینګار:
Citrino Visual & Design Studio

چاپ:
Grafica Goriziana sas

د چاپ نېټه: جون میاشت 2019


RUSSIA
SEI ARRIVATO IN ITALIA!
BULGARIA
TURKEY


GERMANY
AUSTRIA
HUNGARY
FRANCE
SWITZERLAND
ITALY
SLOVENIA
CROATIA
SERBIA
BOSNIA
HERZEGOVINA
MACEDONIA
ALBANIA
GREECE
TUNISIA
ALGERIA
LIBYA



کله چې ایټالیا ته ورسېږئ، څه پېښېدای شي...

که تاسو له خپل هېواد څخه تښتېدلي یاست یا په خپل اصلي هېواد کې یا هغو هېوادونو کې چې له طریقه مو یې سفر کړئ، تر ګوابښ لاندې وئ، تاسو په ایټالیا کې د خوندیتوب لپاره غوښتنه کولی شئ. فورا یونیفورم لرونکو کسانو (د پولیسو ځواک غړي) ته ووایاست.

که مو عمر له 18 کلونو څخه کم وي، که تاسو په داسې هېواد کې زېږېدلي وئ چې له اروپایي ټولنې بهر دی او اوس په ایټالیا کې له مور او پلار او یا د کورنۍ له بل بالغ غړي څخه پرته ژوند کوئ، د ایټالیا د قانون پر بنسټ تاسو بهرنی ماشوم یاست او تاسو د خوندیتوب حق لرئ.
تاسو رد او یا هم ایستل کېدای نشئ او تاسو په ایټالیا کې په قانوني توګه لږ تر لږه تر هغه مهاله اوسېدای شئ چې (18 کلن) شئ.

کله چې ایټالیا ته ورسېږئ، تاسو کېدای شي د یونیفورم لرونکو کسانو (پولیس) له خوا ودرول شئ. که ونه درول شئ، تاسو پخپله ژر تر ژره هغوی ته مراجعه وکړئ او ورسره خبرې وکړئ. ډارپرئ مه. هغوی ته فورا وایاست چې عمر مو له 18 کلونو څخه ښکته دی او ورځخه د مرستې غوښتنه وکړئ. دوی به تاسو ته غوږ شي او درسره به مرسته هم وکړي.

یونیفورم لرونکي کسان به له تاسو څخه لومړی د نوم او تخلص پوښتنه وکړي، دا چې څو کلن یاست او چېرې زېږېدلي یاست. دا مهمه ده چې حقیقت ووایاست. په ایټالیا کې یونیفورم لرونکو کسانو ته دروغ ویل جرم ګڼل کېږي او که تاسو حتی بالغ هم نه یاست، کېدای شي له امله یې مجازات شئ.
که تاسو نه پوهېږئ چې یونیفورم لرونکي کسان څه وایي او یا څه لیکي، له هغوی څخه د ژباړونکي/فرهنګي منځګړي په وسیله چې ستاسو په ژبه پوهېږي، مالومات وغواړئ او د ژباړونکي په مرسته ځان باوري کړئ چې ستاسو اړوند مالومات سم لیکل شوي.

که تاسو له خپله ځانه سره اسناد لرئ، فورا یې یونیفورم لرونکو کسانو ته وروښیئ. که پاسپورټ لرئ، کېدای شي درنه واخستل شي خو باید یې یوه کاپي تاسو ته درکړي. د هغه چا د نوم پوښتنه وکړئ چې ستاسو پاسپورټ اخلي همداراز د نېټې او ځای پوښتنه هم وکړئ تر څو د پاسپورټ په کاپي کې ذکر شي.

که عمر مو 14 یا ډېر وي، دوی به ستاسو عکس او د ګوتو نښې واخلي. که عمر مو له 14 کلونو څخه ښکته وي، یونیفورم لرونکي کسان اجازه نه لري چې ستاسو د ګوتو نښې واخلي.

کله چې ستاسو پېژندنه ترسره شي، یونیفورم لرونکي کسان به تاسو د ماشومانو او نوو ځوانانو د ښه راغلاست مرکز ته بوزي.

که تاسو د لږ تر لږه 18 کلن شخص په توګه په غلطه پېژندل شوي وئ او د بالغینو د ښه راغلاست مرکز ته بیول کېږئ، نو باید فورا د مرکز کار کوونکو ته ووایاست: دوی به له تاسو سره مرسته وکړي تر څو په سمه توګه وپېژندل شي او د کم عمر لرونکو ماشومانو د ښه راغلاست مرکز ته ولېږدول شي.

که مو عمر 18 او یا له دې ډېر وي او تاسو په غلطه توګه د کم عمر لرونکي شخص په توګه پېژندل شوي یاست او د ماشومانو لپاره د ښه راغلاست مرکز ته بیول شوي یاست، د مرکز کار کوونکو ته ووایاست، هغوی به ستاسو حقونه او مسؤلیتونه درته تشریح کړي او همداراز به ستاسو د پېژندنې اسنادو د اصلاح کولو د پایلې په اړه مالومات ورکړي. په یاد وساتئ چې د غلطو مالوماتو ورکړې کول جرم دی او تاسو به یې له امله مجازات شئ.

بالغین او د کم عمر لرونکي کسان بېلابېل اړتیاوې لري او په یوه مرکز کې ګډ اوسېدل د دواړو لپاره د ستونزو د رابرسېره کېدو لامل ګرځي.



که دا اړين وي چې تاسو د کم عمر خاوند ياست...

که تاسو هېڅ ډول اسناد نلرئ او يونيفورم لرونکي کسان (د پوليسو ځواک غړي) قناعت نه کوي چې عمر مو له 18 کلونو څخه کم دي:

تاسو کولی شئ له هغوی څخه وغواړئ چې له هېواد او يا د هېواد له سفارت څخه مو اسناد راوغواړي. که تاسو نه غواړئ چې له سفارت سره اړيکي ټينګي شي ځکه چې تاسو ډارپېرئ، نو د پوليسو ځواک غړو ته ووایاست او دوی به له سفارت سره اړيکي ټينګي نه کړي.

يونيفورم لرونکي کسان (د پوليس قواوو غړي) ښايي له قضايي چارواکو څخه ستاسو د عمر په اړه مالومات ترلاسه کړي.

يونيفورم لرونکي کسان (د پوليس قواوو غړي) بايد تاسو ته د ژباړونکي/فرهنګي منځګړي په وسيله تشريح کړي چې قضايي چارواکي مو عمر څه ډول څېړي.

قضايي چارواکي کولی شي ستاسو د موافقې په صورت کې، ستاسو عمر وڅېړي. د ښه راغلاست مرکز له کار کوونکو او مراقب کس سره مو په دي اړه خبرې وکړئ!

د عمر د څېړلو پر مهال تاسو د قانون پر بنسټ حق لرئ چې د بنه راغلاست د هغه مرکز مسئول کس درسره وي چې تاسو ورلېږدول شوي ياست يا مراقب کس مو درسره مل وي (د مراقب کس د مسئوليتونو په اړه لاندې تشريحات وګورئ)، خو هم کېدای شي تاسو يواځې لاړ شئ. په هر صورت کې بايد ژباړونکی/فرهنګي منځګړی ستاسو سره وي تر څو د پروسيجر په اړه تشريحات درکړي. که چا يې په اړه تشريحات نه وي درکړي، پوښتنه وکړئ چې دوی څه کوي او ولې.

تاسو حق لرئ تر څو د څېړنې پايلې په هغه ژبه ترلاسه کړئ چې پرې پوهېږئ.

که څېړنه ومومي چې تاسو د کم عمر خاوند ياست، تاسو کولی شئ يواځې د بهرنيو ماشومانو د بنه راغلاست په مرکز کې اوسېدو ته دوام ورکړئ.

خو که وموندل شي چې لږ تر لږه ۱۸ کاله عمر لرئ، تاسو داسې يوه بنسټ ته غوښتنه ورکولی شئ چې له بهرنيو بالغو کسانو سره مرسته کوي، که تاسو فکر کوئ چې د ازموينې پايله سمه نده، تاسو د مدافع وکيل په مرسته د خپل تصميم په اړه بيا غور کولی شئ.



تاسو به د کم عمر لرونکو د ښه راغلاست مرکز ته ولې ږدول شئ...په مرکز کې به څه پېښ شي...

تاسو شاید وروسته له څو ساعتونو یا څو ورځو څخه د ښه راغلاست له لومړي مرکز څخه د یواځې بهرنیو ماشومانو د ښه راغلاست بل مرکز ته په بل موقعیت کې ولې ږدول شئ.

کله چې د ښه راغلاست مرکز ته ورسېږئ، د مرکز کار کوونکي سره له فرهنګي منځګړي به درته په اېتالیا کې ستاسو د حقونو او مسؤلیتونو په اړه مالومات وړاندې کړي او ستاسو، د کورنۍ، په هېواد کې مو د ژوند د وضعیت او له هېواد او کورنۍ څخه د لیرې تلو لاملونو او له کور څخه مو د سفر د بهیر په اړه پوښتنې وکړي. تاسو باید د دې پوښتنو له املې ونه ډار شئ. هغه خلک چې ستاسو مراقبت کوي، اړتیا لري تر څو تاسو وپېژني او پوه شي چې ګڼې څه ډول باید درسره مرسته وکړي.

د مرکز کار کوونکي به ستاسو عکسونه واخلي او بیا به تاسو پولیسو ته بوزي، چېرې چې ستاسو پېژندنه به بیا ترسره شي، ستاسو د ګوتو نښې به واخلي او د اوسېدو مجوز به درکړي.
د اوسېدو مجوز هغه سند دی چې ستاسو هویت تثبیتوي. تاسو یې باید تل له ځانه سره ولرئ او یا لږ تر لږه د مجوز کاپي له ځانه سره ولې ږدوي او په

هغه صورت کې چې کوم یونیفورم لرونکی شخص یې لیدل غواړي، باید یې وروربښیئ.
د اوسېدو مجوز ثبوتوي چې تاسو حق لرئ په ایټالیا کې ژوند وکړئ او په وسیله یې کولی شئ یو شمېر خدمتونو ته لاسرسي ومومئ، لکه د مالیې د شمېرې صدور او طبي پاملرنې او د ژبې د زده کړې په کورسونو او/یا مسلکي روزنو په کورسونو کې شاملېدل او په ورزشي فعالیتونو کې برخه اخیستل او داسې نور.

د بڼه راغلاست په مرکز کې بنایي تاسو ته جیب خرڅي هم درکړل شي. د هر مرکز جیب خرڅي له یو بل سره توپیر لري. د جېب خرڅ یو حق ندی دا یوه مرسته ده او همداراز د لاربښوونې او انسجام لپاره یوه وسیله ده.

د موبایل درلودل حق نه ګڼل کېږي. تاسو کولی شئ د مرکز د وسایلو په کارولو سره د خپلې کورنۍ له غړو سره اړیکې ټینګې کړئ. په ځینې مواردو کې کېدای شي د موبایل کارونه ستاسو د خوندیتوب په موخه کنټرول او یا محدود شي. موبایل یوه سودمنده وسیله ده، خو ځینې مهال کېدای شي ګوابښمنه هم وي او کولی شي ستاسو د خوندیتوب په وړاندې ګوابښ رامینځ ته کړي.

که تاسو ستونزې لرئ او یا هم له چا څخه ډارېږئ، له داسې یو چا سره خبرې وکړئ چې پرې باور لرئ. له خبرو کولو مه ډارېږئ. د مرکز کار کوونکي او ستاسو قانوني مراقب کس به تاسو ته غوږ شي او درسره به مرسته وکړي. هر څه چې کارکوونکو ته وایئ، هغه خصوصي دي او محرم ساتل کېږي.

په یاد ولرئ چې په ایټالیا کې نارینه او ښځینه مساوي حقونه لري. په ایټالیا کې هېڅ څوک هم ستاسو له حقونو څخه په دې وجه انکار نشي کولی چې ګني تاسو ښځینه یاست.

با حوصله اوسئ: دا یوه اوږده پروسه ده!



مراقب کس څوک دی؟

که ستاسو عمر له ۱۸ کلونو څخه کم وي او تاسو په ایټالیا کې د مور او پلار او یا د کورنۍ له بل بالغ شخص څخه پرته ژوند کوئ تر څو ستاسو پام وساتي او مرسته وکړي تر څو تر ټولو ښه تصامیم ونیسئ: د ماشومانو محکمه به ستاسو لپاره یو مراقب کس وټاکي.

ستاسو مراقب کس یو بالغ شخص دی چې د ښه راغلاست په مرکز متکي ندی. هغه به ستاسو استازي توب کوي، ستاسو سره به ګرځي او په هغو ځینو مواردو کې به درسره مرسته وکړي چې د قانون له لورې په نظر کې نیول شوي، هغه به همداراز ستاسو لپاره مشخص اسناد لاسلیک کړئ، د بېلګې په توګه د پېژندنې ازموینې او/یا طبي ازموینو او/یا طبي درملنې، په ښوونځي کې د شاملېدو او یا د نړیوال خوندیتوب پروسیجر او داسې نورو مواردو په صورت کې.

ستاسو مراقب کس به د ښه راغلاست مرکز ته درشي تر څو تاسو سم وپېژني او د اړتیا پر مهال به ورسره وګورئ.

تاسو اړ نه یاست چې تل له خپل مراقب کس سره اړیکي وساتئ.

د ماشومانو محکمه شاید ډېر وخت ونیسي تر څو تاسو ته مراقب کس وټاکي. تر څو چې ستاسو لپاره مراقب کس ندی ټاکل شوي، د مرکز کار کوونکي به ستاسو مؤقتي مراقب کس وي.



له کورنۍ سره د بیا یوځای کېدو حق

که تاسو د خپلې کورنۍ له غړو سره په اړیکه کې یاست، تاسو کولی شئ ورسره خبرې وکړئ او خبر ورکړئ چې تاسو ښه یاست او کولی شئ د مرکز د کارکوونکو په مرسته ورسره په منظمه توګه خبرې وکړئ. که تاسو د خپلې کورنۍ له غړو سره په اړیکه کې نه یاست خو پوهېږئ چې باید څه ډول له خپلو خپلوانو سره اړیکې ټینګې کړئ، د مرکز له کار کوونکو څخه وغواړئ تر څو له هغوی سره د اړیکو په ټینګولو کې درسره مرسته وکړي.

که چیرته تاسو له خپلې کورنۍ سره په هر دلیل چې وی، په اړیکه کې نه یاست د بیلګې په توګه که چیرته تاسې له هغو څخه د سفر په لړ کې بیل شوی یاست، فوراً هغه کسانو ته چې یونیفورم لری یا د پذیرایی مرکز مسوولینو ته احوال ورکړئ او هغوی به ستاسو سره د کورنۍ په پیداکولو کې مرسته وکړي.

که ستاسو د کورنۍ غړي (مور، پلار، ورور، خور، اکا-ماما، خاله-عمه، د اکا-ماما-خاله-عمه زامن/لورانی) یا داسی کسان لرئ چې په ایټالیا او یا بل اروپایي هېواد کې ستاسو مراقبت کولای شي او که غواړئ ورسره واوسئ، کار کوونکي به درته تشریح کړي چې څه ډول په امن کې ورتلی شئ او په تګ کې به هم درسره مرسته وکړي.



ستاسو حقونه کوم دی؟

تاسو حق لرئ تر څو په خپلو ټولو روغتیايي، اداري او قضايي پروسيجرونو کي اطلاع حاصله او ګډون وکړئ.

که روغتیايي ستونزه لرئ، د ښه راغلاست مرکز کار کوونکو ته ووایاست. تاسو حق لرئ تر څو په فوري توګه د اړتیا وړ طبي درلمنه ترلاسه کړئ. په ایټالیا کي نارینه او ښځینه ډاکټران موجود دي. تاسو کولی شئ وغواړئ تر څو مو ازموینه د داسي یوه ډاکټر په وسیله ترسره شي چې ستاسو سره يې جنسیت یو دی. یو منځګړی هم چې ستاسو په ژبه پوهیږي، باید د طبي ازموینو پر مهال موجود وي تر څو د اړتیا په وخت کي تاسو ته تشریح کړي چې څه روان دي.

تاسو حق لرئ تر څو د کار کوونکو او فرهنګي منځګړي په وسیله د خپلو حقونو په اړه خبر ترلاسه کړئ.

تاسو حق لرئ تر څو غږ مو واورېدل شي او دا چې د خپل ژوند د پروژې په اړه خپل اندونه څرګند کړئ. که څه هم، دا په دې مانا نده چې ستاسو ټولې غوښتنې او توقعات به پوره کېږي.

تاسو حق لرئ چې فرهنګ، ژبه او دين ته مو درناوی وشي.

تاسو حق لرئ چې ښوونځي ته لاړ شئ او ایټالیوي ژبه زده کړئ او د مسلکي روزنو په کورسونو کې ګډون وکړئ تر څو درسره مرسته وکړي چې کله د 18 کلنۍ عمر ته ورسېږئ، ځان ته دنده ومومئ. که څه هم، د روزنیزو کورسونو انتخاب ستاسو د ایټالیوي ژبې پر مهارت، ستاسو د زده کړو په کچه او دا چې ایا ستاسو له رسېدو څخه وروسته په اړونده سیمه کې کوم کورس شته، ارتباط لري.

په یاد وساتئ چې که تاسو په ایټالیوي ژبه په سمه توګه خبرې نشئ کولی، تاسو تل حق لرئ تر څو له منځګړي څخه مرسته وغواړئ تر څو تاسو ته مالومات ورواندې کړي چې څه روان دي او حالات درته وژباړي.



نه يواځې حقونه، بلکې مسؤليتونه هم...

دا ستاسو مسؤليت دی تر څو د خپل کوربه هېواد د قانون او مقرراتو درناوی وکړئ.

په ايټاليا کې، هغه خلک چې عمر يې لږ تر لږه ۱۴ کاله وي، د هر هغه جنايي جرم لپاره مسؤل ګڼل کېږي چې دوی پرې مرتکب شوي. جنايي جرم هغه عمل دی چې د ايټاليوي قانون په وسيله منع شوی او که تاسو يو جنايي جرم ترسره کړي تاسو به د ايټاليا د جرايمو له قانون سره سم مجازات کړل شئ. له مجازاتو څخه موخه تاسو ،ته سبق درکول دي، دا په دې مانا ده چې تاسو د بدو اعمالو په جدي توب پوهوي تر څو يې بيا تکرار نه کړئ.

که تاسو کوم جنايي جرم ترسره کړئ، دا کېدای شي ستاسو د اوسېدو مجوز پر ترلاسه کولو او يا نوي کولو باندې منفي اغېز پرېباسي.

دا ستاسو مسؤليت دی چې د ښه راغلاست مرکز د قوانينو درناوی وکړئ او د هغو خلکو احترام وساتئ چې ستاسو سره مرسته کوي. قوانين د ښه راغلاست په مرکز کې له ټولو کسانو سره د ګډ سوله ايز ژوند د بقا لپاره اړين دی او هغوی هم داسې وسايل لري تر څو ستاسو سره مرسته وکړي چې بلاغت ته ورسېږئ او کله چې د ښه راغلاست له مرکز څخه ځئ، په يوه خپلواکه او مسؤله توګه ژوند مخ ته بوزئ.



په ایټالیا کې هر څوک باید تر ۱۶ کلنۍ پورې ښوونځي ته لاړ شي! په هر صورت کې، دا ستاسو مسؤلیت دی چې د ایټالیوي ژبې په کورسونو او نورو وړاندیز شوو روزنیزو کورسوونو کې گډون وکړئ.



دا ستاسو مسؤلیت دی چې د ټولو د فرهنګ، ژبې او دین درناوی وکړئ.



ممکنه قانوني تګلارې

د دې لپاره چې له خپل وضعیت سره سم قانوني تګلاره وموميئ، له کار کوونکو او یونیفورم لرونکو کسانو(د پولیس د قواوو غړي) سره د خپلو شخصي او کورنۍ اړوندو مالوماتو د وړاندې کولو په برخه کې همکاري بنسټیز رول لري.

د کم عمر لرونکو کسانو لپاره د اوسېدو مجوز او بدلېدل یې

،یواځې د دې لپاره چې تاسو د یوه کم عمره شخص په توګه ایټالیا ته رسیدلي یاست تاسو حق لرئ چې د "کم عمره کسانو" لپاره د اوسېدو مجوز ترلاسه کړئ.
د کم عمر لرونکو کسانو لپاره د اوسېدو مجوز ، Friuli Venezia Giulia په تاسو ته د کار کولو مسؤلیت نه درکوي.
/کله چې تاسو د 18 کلنۍ عمر ته ورسېږئ، تاسو کېدای شي د اوسېدو/کار راتلونکي دندې مجوز ترلاسه کړئ.
دا ستاسو حق ګڼل کېږي تر څو په دې اړه مالومات ترلاسه کړئ چې د خپل کم عمر لرونکو د اوسېدو مجوز څه ډول بدل کړئ او کوم اسناد ورته په کار دي، د بنه راغلاست مرکز کار کوونکي به درسره مرسته وکړي تر څو د مجوز د بدلولو پروسیجر ترسره کړئ.
پاملرنه: که تاسو د 18 کلنۍ عمر له رسېدو وروسته د 60 ورځو په ترڅ کې د نوو اسنادو لپاره غوښتنه درج نه کړه، په ایټالیا کې به ستاسو موجودیت غیر عادی وي او تاسو به ونه توانېږئ چې دلته پاتې شئ.

نړیوال خوندیتوب ته د لاسرسي پروسیجر

که تاسو خپل هېواد پرېښودلی او نه شئ کولی چې بېرته لاړ شئ او یا نه غواړئ چې

لاړ شئ ځکه د ازار او اذیت کېدو وېره لرئ، یا احساس کوئ چې مجازات به شئ او په فزیکی او/یا ذهنی توګه به درسره په بې رحمانه توګه چلند وشي او هغه هم ستاسو د فرهنګ، ژبې او/یا دین او یا له دې امله چې تاسو خپل سیاسي نظریات څرګندوئ او چارواکي مو په هېواد کې خوندیتوب نه وړاندې کوي او یا مو د ژوند په وړاندې د هغو ،حالاتو له امله ګواښ موجود دی چې په هېواد کې مو د تاوتریخوالي لامل ګرځېدلی تاسو حق لرئ ترڅو د نړیوال خوندیتوب غوښتنه وکړئ.
له خپلو کار کوونکو څخه د دې موضوع په اړه د لا ډېرو مالوماتو غوښتنه وکړئ. دوی به درته د نړیوال خوندیتوب د پروسیجر په اړه تشریحات درکړي او ستاسو مراقب کس به ستاسو سره د پولیسو مرکز ته لاړ شي تر څو د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنه ثبت کړئ.

د بې وطنه شخص په توګه د پېژندنې لپاره پروسیجر ته لاسرسی

که تاسو د زېرېدنې او/یا د هغه هېواد د هویت اسناد نه لرئ چې پکې اوسیدلی یاست او هېڅ هېواد مو د خپل وګړي په توګه نه پېژني، تاسو بې وطنه شخص یاستئ او حق لرئ چې د بې وطنه شخص په توګه وپېژندل شئ او مناسب خوندیتوب ترلاسه کړئ.
له کار کوونکو څخه په دې اړه د مالوماتو پوښتنه وکړئ، دوی به درته دا تشریح کړي چې بې وطنه شخص، یعني څه او د بې وطنۍ د وضعیت د ترلاسه کولو لپاره پروسیجر په اړه به هم درته مالومات وړاندې کړي او ستاسو له مراقب کس سره په ګډه او د اړتیا پر مهال د مدافع وکیل په مرسته به د پروسیجر د مخته بیولو په برخه کې درسره مرسته وکړي.

ټولنیز خوندیتوب ته لاسرسی

پاملرنه: که داسي اشخاص موجود وي چې له تاسو څخه یې سؤ استفاده کړي، او یا یې قصد درلود چې له تاسو سؤ استفاده وکړي، او تاسو او ستاسو کورنۍ یې ګواښلي چې زیان به دورسوي یا غواړي په تاسو باندې د زور او جبر له لارې هغه کار ترسره کړي چې تاسو یې کول نه غواړئ، د بېلګې په توګه تن خرڅول، د مخدره توکو خرڅول، غلا، ګدایی، د ترافیکي اشارو په سیمو کې د موټرو د شیشو پاکول او یا دا چې باید په مزرعه کې کار وکړئ، په ایټالیا کې یو شمېر قابل خلک موجود دي چې درسره مرسته وکړي!
له داسي یوه چا سره خبرې وکړئ چې پرې باور لرئ او یا د ټلیفون وړیا شمېرې 800 290 290 ته زنګ ووهئ. ستاسو سره به د اړتیا وړ مرستې ترسره شي

د داوطلبانه تلو په برخه کې مرسته

که تاسو فکر کوی چې د خپلې کورنۍ او هېواد په پرېښودلو مو لویه غلطي کړې او غواړئ چې بېرته لاړ شئ، د بنه راغلاست مرکز له کار کوونکو څخه غوښتنه وکړئ او هغوی به ستاسو هېواد ته د بېرته تلو په برخه کې اړین مالومات درکړي.

SOS

اړين بربښنالیکونه او د ټلیفون شمېرې چې کولی شئ هره شېبه ترې کار واخلئ، د بېلګې په توګه کله چې یوازې یاست، یا د اړتیا پر مهال او یا هم د اضطرار پر مهال...

114	د ماشومانو اضطرار	**112**	(د قانون پلی کوونکي) Carabinieri
118	روغتیايي اضطرار	**113**	پولیس

... یا آن که غواړئ ډېر مالومات او ممکنې مرستې ترلاسه کړئ

800 290 290	د انسانانو د قاچاقو ضد وړیا ټلیفون شمېره
800 905 570	فرهنګي او ټولنیزه ټولنه) تر څو تري د سیاسي پناه) ARCI غوښتنې غوښتنه وکړئ او د نړیوال خوندیتوب وړیا ټلیفون شمېره
+39 351 137 6335	د هغو اړیکه نیوونکو لپاره وړیا شمېره چې غواړي د Lycamobile شبکې له لارې مور سره اړیکه کې شي
https://www.jumamap.com/	مهاجرینو د خدمتونو نقشه JUMA د
800 901 010	د نژاد په وړاندې تبعیض ضد بنسټ د ټلیفون شمېره
+39 06 802121 itaro@unhcr.org	د سویلي اروپا لپاره د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري (UNHCR) سیمه ئیز دفتر
+39 06 69200114 cir@cir-onlus.org gorizia@cir-onlus.org catania@cir-onlus.org	د CIR - د مهاجرینو لپاره د ایټالیا شورا شمېره CIR Gorizia CIR Catania
د لیدلو یا ملاقات شمېره: **+30 04 81386261** cr.organi.garanzia@regione.fvg.it	په ګیولیا کې د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د حقونو د خوندیتابه سیمه ئیز چارواکي
garanteinfanziasicilia@gmail.com	په سیسیلی کې د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د حقونو د خوندیتابه سیمه ایز چارواکي


SOS









”د لومړيٍ ځل لپاره کله چې ما کور پرېښود، ما د خوندیتوب احساس وکړ، او هېڅکله به ”مي دا هیر نه شي

د عمر په نامه 16 کلن د ګینه هېواد اوسېدونکی

لخوا

CIR
CONSIGLIO ITALIANO PER I RIFUGIATI onlus

په مرسته

UNHCR
The UN Refugee Agency